کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څپله ملا له رکوع څخه پورته کړه نو - دا دعا به يې وويله: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

له ابن ابي اوفى رضى الله عنه څخه روايت دى وايي چې: کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څپله ملا له رکوع څخه پورته کړه نو - دا دعا به يې وويله: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ». الله د هغه چا - وينا - واوريده چې د هغه ثنا يې وويله، اې الله زمونږه ربه سترا لره ستاينه ده، د آسمانونو د ډکوالي او د ځمکې د ډکوالي او د هغه څه د ډکوالي په اندازه چې له دوی نه وروسته دي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله په لمانځه کې څپله ملا له رکوع څخه راپورته کړه نو "سمع الله لِمَن حمده"، به يې ويېل، يعنې چا چې د الله تعالى ستاينه وکړه، الله تعالى يې دعا قبوله کړه او د هغه ستاينه يې ومنله، بيا پدې وينا سره د الله تعالى ثنا بيانوي : اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ "، يعنې اې الله تا لره ستاينه ده، د آسمانونو او ځمکې د ډکوالي په اندازه او هغه څه چې لدې څخه وروسته دي، داسې ستاينه چې آسمانونه او ځمکې ډکوي او څه يې چې تر منځه دي، او هغه څه ډکوي چې الله يې وغواړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65101